# د مراد شینواري په حمزه بابا لیکلي شوي د دوؤ نظمونو څېړنیز جاج

## A critical analysis of Murad Shinwari’s two poems on Hamza Baba

Musavid Khan ★

**Abstract:**

Broadly speaking Khyber school of thought of poetry is the gift delivered to Hamza Baba. Many others joined the said school and contributed in creating modern poems by their Ghazals. This is the lovely son of Amir Hamza Khan Shinwari Mr. Murad Ali who wrote the modern poems and created his own inventions and discoveries. He is the Pioneer in respect of modern poem. This is why, his poems won a country wide fame due to his rich contribution in modern poems. Really, this is Murad Shinwari who always creates and conceives his own individual worlds in each of his poems. His poems are righteously fruitful for the whole Pashto literature and blessings.

**Keywords:** Khyber school of thought, Modern Poem, Fame, Inventions, Discoveries, Individual worlds, Pioneer.

نظم د عربۍ ژبې لفظ دے چې په عامه توګه د ترتیب ،تنظیم او د انتظام کولو په معنو کښې مستعمل دے۔ولې د نظم لفظ که په ژورو معنو کښې وګورې نو هم دغه نظم په واړه مادي شیانو او ورسره په واړه فکري او تخیلي عالمونو کښې هم روان موجود دے۔قدرت دا ټول کائنات هم د یو نظم نه لاندې تخلیق کړي دي چې دا هر چرته لیدے شي۔شپه او ورځ راځي چې د انسان سره خپل تعمل او تعلق لري۔ دغسې هم دغه نظم که د الفاظو په پېرایو کښې،د شاعرانو په شاعرۍ کښې او یا ئې د شلمې صدۍ عیسوۍ د شاعرانه نظم ګویۍ په تناظر کښې واخلو نو د نظم معنې او نوعیت ډېر مزل کړے دے چې اخر د " جدید نظم " تر اصطلاح پورې سره د ډېرو تجربو تر ننه رارسېدلے دے۔لیکوالانو او پوهانو د نظم ګڼ شمېر تعریفونه کړي دي۔د شاعرۍ د نورو مختلفو صنفونو تر مېنځه ئې د " نظم " یا "جدید نظم " د اصطلاحاتو منفرد او ځانله حېثیتونه،د نظم هېئتونه او د دې خپل ساختي اصول وضع کړي دي۔لکه محترم محمود ایاز صېب چې د لفظونو دغسې یو شعري ترتیب په ګوته کوي او د نظم پحقله لیکي چې

:

★ PhD Scholar Of Pashto Academy University of Peshawar

" د مصرعو داسې مجموعه چې پکښې فکري تسلسل او معنوي ربط موجود وي او د قیصې په تار کښې د یو خیال یا موضوع لفظونه په شاعرانه فن سره داسې پیودل شوي وي چې لے،ردم او بحر ته زیان نۀ رسوي او په مجموعي لحاظ موزونیت ولري۔ داسې شعري ترتیب ته نظم وئیل کېږي " ۱

یو طرف ته که غزل عېن د زړۀ سره تړلے یو صفت دے نو برعکس د دې نظم بیا کوم متعین هئیت نۀ لري او د دې هئیت تعلق بیا د نظم د قسمونو سره ګز کېږي۔ ازاد نظم،مرثیه،مدحیه،معرٰی نظم،محمس او مسدس هر یو قسم خپلې ځانګړتیاوې لري او خپل طبعي او ساختي اصول لري۔ د نظم د بعضې بنیادي خصوصیاتو پحقله محترم داورخان داؤد لیکي چې :

" لکه چې څرګنده ده په فني او فکري لحاظ د نظم او غزل پولې بېلې بېلې دي۔ غزل د وجداني او جذباتي کېفیاتو ائینه دار دے ، خو نظم زیات فکري اړخ سره اړه لګوي۔ بله دا چې په نظم کښې په نظم کښې په طرز اظهار کښې د تجربو کولو کومه اسانتیا چې په نظم کښې ده هغه په غزل کښې نشته۔ دغسې په نورو شعري صنفونو کښې د نظم فوقیت په دې وجه دے چې د دې په تنه بوده کښې لوئے لوئے موضوعات یو ځاے شوي دي په نظم کښې یو مرکزي خیال وي او د خیال د ارتقا په وجه پکښې تسلسل او وحدت تاثر وي د دې دپاره څۀ ټاکلي موضوع نشته او نۀ د غزل برعکس د دې هئیت متعین دے " ۲

د پښتو ژبې لرغوني او مبارک اثرات هم مونږ ته د امیر کروړ باباؒ او بېټ نیکۀ د مشهورو او معروفو دوؤ نظمونو په صورت کښې رارسېدلي دي۔ چې د پښتو ژبې فخر او د نظم ګویې یوه قدیمه روانه چینه ښکاري۔ دې نه ثابتېږي چې د شاعرۍ د نورو صنفونو په شان نظم ګوئي هم په پښتو ژبه کښې د ډېر پخوا نه شروع شوې او بیا ئې خپل یُون جاري ساتلے۔

دغسې زمونږ د کلاسک ادب او شاعري د ستر خوشحال بابا او رحمان بابا په دورونو کښې خپل کمال بام عروج ته رسېدلي ده۔ ددې نه پس تر ډېر وخته پورې د جمود ښکار شې هم ده۔ د جمود دغه تورتم د پښتنو په ټول ژوند ژواک باندې سور او حاوي شوے وو۔ په دې وختونو کښې د پښتنو د خسته حال سره سم د پښتو شاعري هم شنډ او شډل پاتې شوي دي۔ او دا محال یوائې د اخونانو په سینو کښې د

شاعرۍ او نظم ګوئۍ څۀ نا څۀ باقيات او بخري پاتې شوي دي چې هم دې تر نن " جديد نظم" پورې مزل کړے دے۔

اخر د لوے الله رحم وشو او د شلمې صدۍ عيسوۍ سره سم مختلفو سائنسي علومو په کثرت سره ترقي وکړه۔او انسان د يو سائنسي طرز فکر په بنياد د کائنات و ما فيها پحقله نوي نوي تجربې بېل کړې۔ چې د هغې سره د ټولې نړۍ نظريات او ادبيات ښۀ پوره متاثر شول۔چونکه انسان د تحليل نفسي او معاشرتي بدلون دپاره نوي نوي نظريات وټاکل نو ځکه د شلمې صدۍ عيسوۍ خلق هم د داسې علمي او انقلابي څېړنو سره بدل رابدل شول او نۀ يوازې بين الاقوام يک ادبيات بلکه د ټولې نړۍ په کړۀ وړۀ ډېر ژور او فلسفيانه فکرونه او اثرات ثبت شول۔دلته د پښتنو په سيمو هم دغه اثرات راخوارۀ شول چې په نتيجه کښې ئې " جدائي خدمتګار تحريک" او د " خېبر ادب" په وجود کښې راغلل۔

په دې زمانه کښې د نثر ،د شاعرۍ او د نظم په پنګو کښې د نوؤ نوؤ تجربو سره واضحه اضافې شوې دي۔يو طرف ته که د پښتنو بابا له مخه د پښتنې غېرت چغې سُورې شروع شوې نو بل طرفته د شاعرۍ او نظم په ذريعه د پښتو بابا د پښتنو نوي ژوند او روڼ مستقبل نغمې خورې کړې چې دې کښې د اولسي ادبي جرګې هم ډېر لوے او بنيادي کردار پاتې شوے دے۔د حمزه بابا د نظم ګوئۍ هم ښکلي شاهکار او نامتو شاعران پيدا کړل چې ناظر شينوارے،مراد شينوارے،اکرم خان فاروق،خاطر افريدے او خېبر افريدے او داسې نور ئې ښۀ سپېځلي او نمائنده مثالونه دي۔دلته د مراد علي شينواري (مُراد شينواري ۱۹۲۷ء تر ۲۰۱۲ء) په صورت کښې د نظم ګوئۍ يوه داسې سپرغۍ هم راوچته شوه چې په هغې بعضې شاهکار نظمونو ئې باقاعده ابوارډونه هم اخستي دي۔

مراد شينواري د ستر حمزه بابا ايکې يو زوے دے چې يو ښۀ شاعر،اديب،نقاد،افسانه نګار او ترجمه نګار دے۔ټول عمر ئې د شعر و ادب په غرقه مطالعه کښې تېر کړے دے۔هغه د يو سجيده شخصيت خاوند ؤ ځکه ئې د تنقيد ډېره تېره ژبه لرله۔او په بين المللي ادبياتو ئې ژور نظر لرلو۔هم دغه وجه ده چې هغوي د شېکسپيئر ډرامه " مرچنټ اف وينس" ډېره سپېځلې ترجمه " د وينس شهزاده " په نوم کړې ده۔دغسې ئې د ټيني سن د مشهور نظم " ليډي اف شائيلاټ " ډېر په زړۀ راښکونکي انداز پښتو ژبې ته ترجمه کړے دے۔

دخېبر ادبي جرګې له مخه د مُراد شينواري د ادبي خدماتو په درنوي کښې يوه لويه دستوره شوې وه چې ډاکټر کليم شينواري ئې خاکه داسې بيانوي :

" په ۱۱ مئ ۱۹۹۷ء کښې د خېبر پښتو ادبي جرګې له خوا په ډګري کالج کښې د مُراد صېب د ادبي خدماتو د اعتراف په توګه کومه دستوره شوې وه. په دې موقع د نورو ډېر شاعرانو او ليکوالو نه علاوه ډاکټر يار محمد مغموم خټک صېب ، پروفېسر داور خان داؤد ،مجيد الله خليل صېب او حنيف خليل صېب هم موجود وو. د دې دستورې د ټولو ليکوالو او شاعرانو د تاثراتو او خبرو په رڼا کښې ډاکټر يار محمد مغموم صېب پخپلو صدارتي او وروستو خبرو کښې دا نتيجه راويستې وه چې مُراد صېب د پښتو نظم بابا دے "۳

هم په دې مضمون کښې ډاکټر کليم شينواري صېب ليکي چې :

" او غالباً چې د حمزه بابا کوم نظمونه صرف په " غزونې" کتاب کښې شامل دي د هغې مثال نن هم نشته خو هم دغه شان څۀ چل زمونږ دې مراد شينواري صېب سره هم شوے دے. ځکه چې مراد صېب د نظم سره سره د غزل هم ډېر ښۀ شاعر دے. خو په خېبر او نوره پښتونخوا کښې د هغوي شهرت د غزل نه زيات د نظم دپاره مشهور دے. اګر چې مراد صېب د شعر و ادب په نورو اصنافو هم ښۀ عبور او قدرت لري. خو کوم مقبوليت او مقام چې د هغوي نظمونو ته حاصل دے هغه د دوي بل کوم صنف ته نۀُ دے حاصل. مراد صېب نۀ يواځې دا چې په نظم کښې د يو منفرد مقام خاوند دے. بلکې مرحوم خېبر افريدے خو په خپل کتاب " د خېبر انګازې " کښې ليکي چې " مراد د پښتو د نظم پلار دے " ۴

د مراد شينواري تر اوسه درې ادبي اثار موجود دي چې اول ئې د خېبر ادب " تذکره " وړپسې ئې پلوشې " د افسانو مجموعه" او بيا د دوي شعري مجموعه " ائينه " په نوم چاپ شوي دي. محترم ډاکټر راج ولي شاه خټک د مراد شينواري په کتاب ائينه کښې د " مراد شينواري " سرليک لاندې ليکي چې :

" د اکثرو نقادانو دا رائې ده چې مراد شينواري په بنيادي ډول د نظم شاعر دے. شايد چې مراد په اراده د نظم تخليق ته توجه کړې وي او هغه په دې چې په غزل کښې د حمزه شينواري د فن د نمر په رڼا نۀ شو ښکاره کېدے او د ناظر شينواري د غزلګو سېورے هم وۀ. نو مراد خپل شاعرانه کمال په نظم کښې ښکاره هم کړو او په خلقو ئې ؤمنلو هم. د ډېرو داسې نظمونو نه که د هغۀ په دې شاهکار نظم

تنقیدي تبصره کېږي " تاته یاد دي پېښوره" نو باید چې د پښتو په یو څو شاهکار نظمونو کښې ښکاره ځائے ومومي " ۵

اوس به د مراد شینواري د منتخب شوؤ دؤو نظمونو یعنې " د حمزه بابا په وفات" او " حمزه بابا" ته راشو چې د دوي کتاب " ائینه " د نظم په برخه کښې شامل دي۔" د حمزه بابا په وفات " ئې واقعي چې ډېر د اعلیٰ پائې نظم نوشته کړے دے۔ چې د هئیت په لحاظ معریٰ نظم دے او په ډرامائي او علامتي بڼه کښې لیکلے شوے دے۔ دغسې د مراد شینواري په دې نظم کښې یو قسله د خپل لرغوني کلاسیک سره د حمزه بابا جدت هم فیصله کوي او د غزل معیار او مقام ئې هم ټاکي۔ دلته د مرزاخان انصاري، د خوشحال بابا او رحمان بابا سره د حمزه بابا د افکارو یوه ښکلې موازنه هم د یو سپېځلي خاکې په شکل کښې تخلیقوي۔ د زمانو د تورتم او جمود نه پس چې د مراد شینواري سترګې وغړېږي نو څۀ ګوري چې یو طرف ته مرزا خان انصاري ،خوشحال بابا او رحمان بابا په خپل چُرت کښې ناست دي۔ مراد شینواري په وېره وېره او غلے غوندې په ډېر اد و احترام خواله ورشي او ورته عرض وکړي چې تاسو خبر ته ولې په ځیر ئې چرته بیا د فیرنګ او اورنګ زېب یرغلونه په پښتنو شروع شوي که څۀ ؟ دغسې د مذکوره بالا خاکې راښکلو دپاره ئې داسې شعرونه راوړي دي چې :

" تـــوره تیـــارۀ وه نیمـــه شـــپه یـــوازې ناســـت ؤم ه زۀ
د خپـــل بابـــا د یـــاد ســـوچونو لـــرې وړے ؤمـــه
خـــدا ے خبـــر دغـــه زمـــا خـــوب کـــه تصـــور ؤ زمـــا
یـــو نـــا څـــاپي تـــورې تېـــرې د نیمـــې شـــپې ورکـــې شـــوې
میاشـــتې کالونـــه همـــه ورک شـــو زمـــانې ورکـــې شـــوې
څـــۀ ګـــورم یـــو خواتـــه مـــرزا او خوشـــحال خـــان ناســـت دے
ورســـره خـــوا کښـــې بـــل ملنـــګ عبـــدالرحمان ناســـت دے
لانـــدې ئـــې لـــوارګي تـــه کتـــل پـــه غلـــو غلـــو ســـترګو
پـــه یـــره یـــره غلـــے غلـــے ورنـــزدې شـــومه زۀ
پـــه ډېـــر تعظـــیم او احتـــرام مـــې تـــرې پوښـــتنه وکـــړه
مـــا وې چـــې اے د پښـــتني ادب عظیمـــو ســـتو
داســـې پـــه زېـــر چـــې تاســـو ګـــورئ د خېبـــر لارو تـــه
داســـې ښـــکارېږي د اورنـــګ یـــا د فرنـــګ دلاســـه

بیــــا دې خوارانـــــو پښـــــتنو تــــه ځـــــۀ بـــــلا پېښــــه ده "۶

دغسې د دې پېښې په ځواب کښې ډېر په مينه محبت مرزا خان انصاري يو تاريخي ځواب ورکوي او مراد ته فرمائي چې :

" مــــرزا خــــان ماتــــه ډېــــر پــــه مينـــه مــــخ راواړولـــو
راتــــه ئــــې اووې اے نادانــــه تــــۀ خبــــر نــــۀ ئــــې ځــــۀ ؟
د كــــوم غــــزل بنيــــاد چــــې مــــا پــــه زړۀ چــــاؤدون ايښــــے ؤ
نــــن دې محفــــل تــــه بــــه د هغــــه غــــزل پــــلار راځـــــي " ۷

وړاندې بيا رحمان بابا د مرزا خان انصاري په کړې خبره باندې تنقيد کوي او حمزه بابا خپل ځان ته د فن او تخيل په بنياد رانزدې کوي. رحمان بابا د حمزه بابا مسلک خپل مشرب ګڼي او مرزا خان انصاري يو برجسته ځواب ورکوي چې مراد شينواري دغه منظر داسې په خپلو شعرونو کښې راګېر کړے دے. وائي چې :

" عظــيم رحمــــان ســــر كــــړو راپورتــــه ځــــۀ مســــكے غونــــدې شــــو
ســــترګې ئــــې پرانســــتې ناڅاپــــه راژونــــدے غونــــدې شــــو
وې وئيــــــل اے د پيــــــر روښــــــان د كــــــورنۍ شــــــاعره
تــــه د تــــاريخ د حقيقــــت نــــه ســــترګې مــــۀ پټــــوه
حمــــزه زمــــا دے چــــې صــــوفي دے هــــم مشــــرب دے زمــــا
پــــه تصــــوف پــــه درويشــــۍ كښــــې هــــم مكتــــب دے زمــــا " ۸

اوس مخکښې د دې دواړو حضراتو د وېناؤ په ځواب کښې ستر خوشحابابا لږ د غصې او جلال په انداز کښې ځواب ورکوي چې که ځۀ هم حمزه بابا د تصوف سالک دے او يو درويش او صوفي دے خو زما د سبک پېروي ئې کړې ده. يعنې خوشحال بابا هم خپله دعویٰ کوي چې حمزه که هر ځۀ هم دے خو په شاعرۍ او غزل کښې ئې د زما د اصولو پېروي کړې ده او زما د غزل په پل ئې خپل پل ايښے دے. د خوشحال بابا دغه ځواب مراد شينواري ځۀ په دې ډول په خپلو شعرونو کښې ځاے کړے دے او وائي چې :

" ستر خوشحال خان دواړو ته وکتل غصه غونډي شو
وې ئې بې شکه چې درویش دے هم صوفي دے حمزه
هم د غزل د گلستان ښکلے طوطي دے حمزه
ولې په ژوند کښې چې دوي ځومره شاعري کړې ده
په هر قدم کښې هم زما ئې پیروي کړې ده
زما په شانې د پښتو ادب پښتون کړو حمزه
زمونږه دور چې تیر شوے ؤ راستون کړو حمزه " ۹

دغسې د خوشحال بابا دغه تقریر لا روان وي چې دې کښې حمزه بابا هم د مرزا خان انصاري د وړنا ترمخه هم دې بابرکت محفل ته راځرگند شي او په ډیر احترام د دې درنو مشرانو په موجودگۍ کښې په خپله سینه دواړه لاسونه کښیږدي او وائي چې اے زما درنو د پښتني ادب سرخېلانو ،زما رهبرانو او استاذانو سلامونه او چې تاسو کوم غزل ماته امانت سپارلے وو نو هغه ما نور هم د ښائست په کالو منور کړے دے او عروج ته مې رسولے دے او په ټوله پښتونخوا کښې مې د ادب جهنډه لکه ودرروله.

مراد شینواري د خاکې دغه حصه په خپلو شعرونو کښې داسې ځاے کړې ده. وائي چې :

" لا ستر خوشحال خپل خبره پوره کړې نۀ وه
چې دروند پټکے ئې په سر کړے خړ څادر په اوږه
د خپل غزل په شانې ښکلے حمزه خان راغے
په احترام ئې په سینه دواړه لاسونه کېښول
ډېر په ادب او په تعظیم ئې دا وړنا وکړله
وې ئې چې اے د پښتني ادب عظیمو سرخېلانو سلام
زما مشرانو رهبرانو استاذانو سلام
تاسو چې کوم یو امانت ؤ راسپارلے ماته
هغې کښې ما نوے ښائست نوې ښکلا پیدا کړه
کومه خلا چې په ادب کښې پاتې شې وه ما ډکه کړله
ټول پښتونخوا کښې د پښتو جنډه مې لکه کړله
په خپلو ښکلو غزلونو مې ښائسته کړه پښتو

کــړۀ وړۀ مـــې ورکـــړۀ د پښـــتو مـــا پښـــتنه کـــړه پښـــتو " ۱۰

مراد شینواري د لوئې مشاهدې خاون د وۀ۔ د پښتو د دې امانت یو روښانه مستقبل ئې هم په امیدونو کښې پړقېدلو۔ وائي چې حمزه بابا دغه د پښتو امانت ځوان کهول ته بیا په دې امید ورحواله کړو چې باقي خصمانه به ئې زما نه پس ځوانان کوي۔ د دې سپېځلي امید په رڼا کښې حمزه فرمائي چې ځوانانو په ائنده کښې زما سره د پښتو او پښتنو د خدمت وعده کړې ده دغسې مراد شینواري د دې نظم دا اخرنے برخه هم ډېره امید افزا ده او د دې شاهکار نظم ډېر ښکلے اختتام لري۔ وائي چې :

" اوس د پښـــتو غـــزل چـــې ځـــوان او زۀ بابـــا ئـــې کړمـــه
مـــا هغـــه ستاســـو امانـــت د نـــوي کُـــول زلمـــو تـــه وســـپارلو
هغـــوي زمـــا ســـره دا ژبـــه دا اقـــرار کـــړے دے
یـــو ځلـــې نـــۀ دغـــه اقـــرار ئـــې پـــه بـــار بـــار کـــړے دے
تـــر هغـــې مـــونږ بانـــدې خنـــدا او خوشـــحالي دي حـــرام
څـــو پښـــتونخوا کښـــې د پښـــتو بېـــرغ خـــتلے نـــۀ وي " ۱۱

دا ټول نظم د مراد شینواري یو تاریخي کوشش دے چې ډېر په موثر انداز کښې ئې لیکلے دے۔ او د معنې او ځانګړې طرز یو شاهکار نظم دے۔ زمونږ د مذکوره بالا کلاسیک شاعرانو نه پس چونکه په څو صدیو کښې د هغوي ځاے چا نۀ وو نیولے نو ځکه د حمزه بابا راتګ (Advent) نه پس دوي د تقابلي جائزو په حقله سوالونو هم سرونه راوچت کړل چې په دې نظم کښې مراد شینواري ښۀ پوره او صفا صفا حال وئیلے دے۔ یعنې د مراد شینواري په خیال حمزه بابا د مرزا خان انصاري د طریقت او روحانیت باریکي هم لري ، د خوشحال بابا د شعر مستي هم لري او د رحمان بابا کلام شیریني هم لري۔ او حقیقت هم دا دے چې حمزه بابا د دې نه اخوا ډېر څۀ نور هم دے لکه چې حمزه بابا په خپله هم وائي چې :

" لوســـــتے دې اشــــــنا کــــــۀ زۀ حمـــــــزه یمــــــه
واړوه دا پاڼــــــه څــــــۀ لــــــږ نــــــور یمــــــه "۱۲

د مراد شینواري دویم نظم مونږ " حمزه بابا" منتخب کړے دے چې د هئینت له مخه غزل نما نظم دے۔ دې نظم کښې مراد شینواري د حمزه بابا د غزل زور او قوت په ګوته کړے دے۔ او بیا چې د خړ خیبر د

ادبي مکتب نه څنګه څنګه خور شوے دے نو د هغې احوال ئې پکښې ډېر په ښائسته ډول او موثر انداز کښې يو ځاے کړي دي. دا نظم ئې د ساده الفاظو يوه نادره مرقع ده. چې په يوه ښکلې بڼه ئې پکښې د زړهٔ راښکونو لفظونو استعمال کړے دے.

حمزه بابا اميرالمتغزلين دے او د غزلونو ورمې ئې واقعي چې د لرې برې پښتونخوا نه علاوه تر هندوستانه خورې شوې دي.

مراد شينواري وائي چې:

" چې بلې ئې خېبر کښې ډيوې د غزلونو
تاوېږي ئې مزار نه پروانې د غزلونو
په ګوتو د مطرب کښې ئې نغمې وتخنولې
ابادې ئې هر چم کښې حجرې د غزلونو" ۱۳

د حمزه بابا د نورو ډېرو شاګردانو په شان دوه معروف و مقبول شاګردان ناظرشينوارے او خاطر افريدے په خپله هم ډېر ښهٔ د اوچتې پائې شاعران دي چې شاعرانه روزنه ئې حمزه بابا په خپله کړې ده او د بابا په پل ئې جوخت پل اېښے دے.

مراد شينوارے مخکښې په دې نظم کښې د دوي د ترتيب په حقله وائي چې:

" خاطر دے که ناظر دے لا تر اوسه په جوتو دي
ورکړي چې بابا دي پېمانې د غزلونو" ۱۴

دغسې فارسي غزل درانهٔ کړهٔ وړهٔ لري او د حافظ شيرازي او سعدي موثر رنګونه لري. خو مراد شينواري وائي چې نن د هغهٔ غزل باز حمزه بابا منګلو ته رارسېدلے دے. مراد شينواري ئې په خپل شعر کښې داسې بندوي چې:

" اوس پېغلې د ايران او ثمر قند ورته پسخېږي
راوينې ئې جذبې کړې پښتنې د غزلونو" ۱۵

دغسې حمزه بابا په خپل ژوند د خپل کامران غزل مزل تر سره کړے دے او په خپل مقصد کښې کامياب شوے دے۔مراد شينواري وائي چې :

" منــزل ئــې د مقصــد پــه خپــل ژونــدون کړلــو تــر لاســه
رالنــډې ئــې کــړې لــرې فاصــلې د غزلونــو" ۱۲

دغسې د دې نظم اخري درې واړه شعرونه د خيبر ادبي مکتب موجوده کردار،د دې ماضي او د روڼ مستقبل سباوؤن نخښې نښانې په ګوته کوي او د حمزه بابا د غزل پرانستې دروازې او حکمت ښائي۔

مراد شينواري وائي چې :

" مــنم چــې پــه خيبــر کښــې شــته نــۀ ونــې نــۀ ګلونــه
خــورې ئــې پښــتونخوا کښــې کــړې ورمــې د غزلونــو
ښــکارېږي پــه کښــې حــال او هــم ماضــي پکښــې ځلېــږي
بابــا ســره دي دا ســې ائينــې د غزلونــو
د شــعر پتنګــانو ځــئ چــې ورانــدې قــدم واخلــو
بابــا کــړې درتــه خلاصــې دروازې د غزلونــو" ۱۷

د خيبر ادبي مکتب کښې د سره نه دا روايت راروان دے چې د ښۀ غزل سره سره ډېر په زړۀ پورې ښکلي نظمونه هم ليکي۔ليکوالانو او نقادانو دغه اړخ ته ښۀ په ځير کتلي دي او د دې مکتب نظم ګوئۍ ته ښۀ په روڼ تندي خراج تحسين وړاندې کړے دے او د دې ستائينې ئې کړې دي۔

د دې روايت ابتدا امير حمزه خان شينواري او د هغوي کورنۍ شاعرانو نه شوې ده۔چې واړه د خيبر شاعرانو ئې هم ښه په کلکه پېروي کړې ده۔هم دغه وجه ده چې په خيبر ادبي مکتب کښې د هر صاحب ديوان په کتاب کښې به د غزلونو سره خوا کښې د نظم برخه هم موجوده وي۔او ضرور طبع ازمائي پرې کوي۔دغسې دا خبره هم ده چې د دې متکب د نظم اعلیٰ استاذ د مراد شينواري ذات مبارک دے چې نظم ئې واقعي کمال ته رسبدلے دے۔

مراد شينواري هغه سپېڅلے شخصيت دے چې نۀ يواځې په خيبر ادب کښې بلکه په ټوله پښتو ادب کښې د يو ځانګړي طرز شاعر دے۔د ازاد نظم بنسټګر او سرخېل دے او د جديد نظم استاذ دے۔

دغه نظم د مراد شینواري په لاس ترقي کړې ده او په ټول پښتو ادب کښې ئې ځان ښکاره کړے دے.

## حوالې

۱. محمود ایاز، " په پښتو نظم کښې شېرینې نغمې لټوم " مشموله ، " جرس پښتو کراچۍ، نظم نمبر" مسلسل ګڼه نمبر ۳۲ تا ۴۰ ، کال نهم، لسم، یولسم، احمد پرنټنګ پرېس ناظم اباد نمبر ۲ کراچۍ، جنوري ۲۰۰۱ء ، مخ ۳۰۱

۲. داورخان داؤد ،"د ناظر د نظم مزل" ، هم دغه اثر، مخ ۵۷۸

۳. کلیم شینواري ، مراد شینوارے او د هغهٔ نظم ګوئي ،هم دغه اثر، مخ ۲۸۴

۴. هم دغه اثر، مخ ۲۷۵، ۲۷۴

۵. ډاکټرراج ولي شاه خټک، مراد شینواري، ائینه ، پاک امارات پښتو ادبي ټولنه دبۍ، جنوري ۲۰۱۲ء، مخ ۱۴

۶. مراد شینواري، ائینه، پاک امارات پښتو ادبي ټولنه دبۍ، چاپ کال جنوري ۲۰۱۲ء، مخ ۱۵۹

۷. هم دغه اثر، مخ ۱۲۰، ۱۵۹

۸. هم دغه اثر، مخ ۱۲۰

۹. هم دغه اثر، مخ ۱۲۰

۱۰. هم دغه اثر، مخ ۱۲۱، ۱۲۰

۱۱. هم دغه اثر، مخ ۱۲۱

۱۲. حمزه شینواري، مرتبه اصف صمیم ، د حمزه شینواري کلیات غزلې، یونیورسټي بُک اېجنسي ، پېښور، اپرېل ۲۰۱۰ء، مخ ۳۳۱

۱۳. مراد شینواري، ائینه، پاک امارات پښتو ادبي ټولنه دبۍ، چاپ کال جنوري ۲۰۱۲ء، مخ ۱۲۲

۱۴. هم دغه اثر، مخ ۱۲۲

۱۵. هم دغه اثر، مخ ۱۲۲

۱۶.هم دغه ،مخ ۱۲۲

۱۷.هم دغه اثر، مخ ۱۲۲

REFERENCES:

1. Mehmood Ayaz, pa pakhtu nazam ke shereeny naghmy latawam, mashmoola jaras krachi, nazam number, musalsal ganna number 36 ta 40 , kaal Jan 2021 p301
2. Dawar Khan Daud, d Nazir da nazam Mazal, hum dagha asar, p 578
3. Kalim shinwari, Murad Sheenwari aw da hagha nazam Goyi, hum dagha asar, p674
4. Hum dagha asar, p 674-675
5. Dr Rajwali shah Khattak, Murad Shinwar, Ayeena, Pak Imarat Pakhtu Adabi Tolana Dubai, Jan 2012, p 14
6. Murad Shinwar, Ayeena, , Pak Imarat Pakhtu Adabi Tolana Dubai, Jan 2012, p 159
7. Hum dagha asar, p 159-160
8. Hum dagha asar, p 160
9. Hum dagha asar, p160
10. Hum dagha asar, p160-161
11. Hum dagha asar, p 161
12. Hamza Shinwari, Murattaba Asif Samim, da Hamza Shinwari Kulyat Ghazali, University Book Agency Pekhawar, April 2010, p 331
13. Murad Shinwar, Ayeena, , Pak Imarat Pakhtu Adabi Tolana Dubai, Jan 2012, p 162
14. Hum dagha asar, p 162
15. Hum dagha asar, p 162
16. Hum dagha asar, p 162
17. Hum dagha asar, p 162